## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**2 عقرب _سال 1402**

خبرنامه





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

سرپرست وزارت امور مهاجرین:آغوش وطن برای همه افغانها باز است و باید همه طور آبرو مندانه برگردند--------- 2

په مشهد کې د مهاجرینو چارو اتشې په شلو ورځو کې سلگونه افغان مهاجرینو سره همکاري کړې --------------------- 2

د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې له ۱۹ زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوې----------------------------------------- 3

د ایران څخه له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول----------------------------------------------- 4

له پاکستان شاوخوا ۴ زره افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ----------------------------------------------------- 4

په پکتیا، نورستان او لغمان ولایتونو کې سلگونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې------------------------------------ 5

په پکتیا، نورستان او لغمان ولایتونو کې سلگونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې------------------------------------ 7

نزدیک شدن مهلت اخراج و شدت بازداشت مهاجران افغان در پاکستان-------------------------------------------- 8

یونېسف ۸۰ ټنه طبي وسایل او درمل د هرات زلزله ځپلو ته رسوي ---------------------------------------------- 9

افغان حکومت: پاکستان افغان کډوالو ایستلو په مسله درې اړخیزې غونډې جوړېدو سره لا موافقه نه ده کړې------10

د هوا له سړېدو سره له پاکستان او ایرانه د افغان کډوالو د ایستلو لړۍ چټکه شوې ---------------------------------12

کرکټ نړیوال جام؛ افغان لوبډلې پاکستان ته ماتې ورکړه------------------------------------------------------------15

# متن کامل اخبار

## د هېواد غېږه د ټولو افغانانو لپاره خلاصه ده، په ابرو او په عزت سره هېواد ته راستانه شئ

د وزارت وېب پاڼه



**دوشنبه، ۸ ربیع الثاني ۱۴۴۵/ ۱ لړم ۱۴۰۲**

**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست الحاج خلیل الرحمان حقاني د کندهار ولایت، د سپین بولدک له صفري نقطې څخه لیدنه وکړه**

**ښاغلي حقاني سپین بولدک کې د مهاجرینو چارو آمریت د کارونو ارزونه وکړه، د راستنېدونکو ستونزې یې واورېدې او له یوشمېر سره یې نغدي مرستې هم وکړې**

**د مهاجرینو چارو وزیر وویل، د مهاجرینو د راستنولو لپاره اسلامي امارت په لوړه کچه تیارۍ نیولې، د هېواد غېږه د ټولو افغانانو لپاره خلاصه ده او ټول باید په ابرومندانه توګه خپل هېواد ته راستانه شي**

**ښاغلي حقاني د مهاجرت نړیوال سازمان ای او ام، د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږۍ اداري اوچا او یو شمېر نورو همکارو موسساتو له مسولینو سره هم ولیدل، ددوی کارونه یې وارزول او لازمې سپارښتنې یې ورته وکړې**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**په لیدنه کې د یادو موسساتو مسؤلینو د مهاجرینو چارو وزیر ته خپل کاري راپور وړاندې کړ او ژمنه یې وکړه، چې د راستنېدونکو زیات تعداد ته په کتو به خپل کاري پرسونل او امکانات نور هم زیات کړي**

## سرپرست وزارت امور مهاجرین:آغوش وطن برای همه افغانها باز است و باید همه طور آبرو مندانه برگردند

آژانس اطلاعاتی باختر



**خلیل الرحمن حقانی سرپرست وزارت امور مهاجرین حین دیدار با شماری از عودت کنندگان در سپین بولدک قندهار گفت: آغوش وطن برای همه افغانها باز است و باید همه طور آبرو مندانه برگردند.**
**عبدالمطلب حقانی سخنگوی وزارت امورمهاجرین به آژانس باخترگفت: سرپرست وزارت امورمهاجرین در جریان سفر به ولایت قندهار ضمن ارزیابی اجراآت آمریت سرحدی امور مهاجرین درسپین بولدک، از نقطه صفری مرز نیز دیدن کرد.**

**سرپرست وزارت امور مهاجرین در صحبت و دیدار باشماری از عودت کننده ها از پاکستان، مشکلات و خواستهای مطرح شده از طرف آنها را استماع نمود و ضمن کمک نقدی به آنها، در مورد رفع مشکلات مطرح شده، به آنها اطمینان داد و علاوه نمود که امارت اسلامی برای عودت کنندگان آماده گی لازم دارد.**
**همچنان سرپرست وزارت امور مهاجرین با مسوولین دفاتر سازمان جهانی مهاجرت، هماهنگی مساعدت های بشری سازمان ملل و شماری دیگر از موسسات ملاقات کرد و مسوولین دفاتر یاد شده ازفعالیتهای انجام شده شان معلومات دادند و بادر نظر داشت افزایش رقم عودت کننده ها، ازدیاد کارمندان و امکانات خویشرا تعهد کردند.**

## په مشهد کې د مهاجرینو چارو اتشې په شلو ورځو کې سلګونه افغان مهاجرینو سره همکاري کړې

د وزارت ویب پاڼه

په مشهد کې د مهاجرينو چارو اتشې د تلې له ۱۰مې څخه تر۳۰ مې نېټې پورې ۵۳۹ افغان مهاجرو سره په بېلا بېلو برخو کې همکاري کړې ده.
د ایران په مشهد کې د مهاجرينو چارو اتشې د معلوماتو پر بنسټ له يادو افغان مهاجرينو سره يې په مختلفو برخو کې، لکه؛ روغتونونو او خيريه مؤسسو ته د ور پېژندنې، افغانستان ته د جنازو د لېږد، د روغتونونو د لګښت د کموالي، د ملګرو ملتونو اړوندو دفترونو ته د ور پېژندنې، د جنازو د تحويلۍ او ښخولو او نورو مسايلو کې له دوی سره مرسته او همکاري کړې. سرچينې زياتوي، چې په ياده موده کې ۹۵۰ تنه افغان مهاجر له مشهد څخه هېواد راستانه شوي دي.

## د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې له ۱۹ زرو زياتو کورنيو سره مرستې شوې

د وزارت وېب پاڼه




په تېره تلې مياشت کې په ۲۱ ولايتونو کې د مهاجرينو چارو وزارت د دويمي واحدونو له لارې له ۱۹ زرو زياتو کورنيو سره مرستې شوې.

په ولايتونو کې د مهاجرينو چارو وزارت د دويمي واحدونو د راپور له مخې ۱۹ زره ۹۲۸ کورنۍ، چې د تېرو جګړو او طبيعي پېښو له امله په هرات، بادغيس، سمنګان، بلخ، سرپل، ننګرهار، ميدان وردګ، جوزجان، باميان، قندهار، بدخشان، کاپيسا، پروان، بغلان، پکتيکا، نورستان، کندز، خوست او لغمان ولايتونو کې بېځايه شوې وې د يادو ولايتونو د مهاجرينو چارو ادارو په همکارۍ د يو شمېر نړيوالو همکارو مرستندويه بنسټونو په مالي مرستې ترسره شوې دي.

**سرچینې زیاتوي، چې په یادو وېشل شوو مرستو کې د خوراکي توکو او روغتیایي کڅوړې، نغدې پیسې، خېمې، کرنیزې کڅوړې، د کور وسایل، شپې لرونکې وزې، د خیاطی ماشین، د وریو د اوبدلو ماشین او د صابون د جوړولو وسایل وېشل شوي دي.**

## د ایران څخه له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



**د ایران څخه درې زره او ۲۴۲ تنه افغان مهاجر د تلې په ۳۰ مه په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي. د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنی او مجردان شامل وو چې له ډلې یې ۳۰۳ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ور سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوې.**

## له پاکستان شاوخوا ۴ زره افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



د ننګرهار ولایت د تورخم  او د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې د پاکستان څخه  درې زره او ۹۱۶ تنه افغان مهاجر د تلې په ۳۰ مه هېواد ته راستانه شوي.

د ننګرهار ولایت د تورخم د مهاجرینو چارو د آمر د معلوماتو له مخې  ۵۴۵ کورنۍ، چې ۳ زره او ۱۸۱ تنه کیږي د تورخم له لارې هېواد ته راستنې شوې، چې د مهاجرینو چارو ادارې کې د نوملیکنې وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ته ور پېژندل شوې دي.

د یو بل خبر له مخې ۷۳۵ تنه نور افغان مهاجر چې په پاکستان کې اوسېدل د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې د تلې په ۳۰مه هېواد ته راستانه شوي دي.

د قندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو چارو آمریت د معلوماتو پر بنسټ ۱۱۱ کورنۍ، چې ۶۹۵ تنه کیږي له ۴۰ تنو نورو چې له بند څخه آزاد شوي وو په جبري  توګه له دې لارې هېواد ته راستانه شوي او د مهاجرینو چارو ادارې کې د نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور پېژندل شوي دي.

## په پکتیا، نورستان او لغمان ولایتونو کې سلګونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت وېب پاڼه




**د پکتیا، لغمان او نورستان ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو له لارې د تلې په ۳۰مه ۳۰۲ کورنیو سره نغدي مرستې وشوې.**
**د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو پر بنسټ ۲۰۷ کورنیو سره وروسته له سروې او پېژندنې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ مرسته شوې.**

**د یوبل خبر له مخې ۸۷ نورو راستنېدونکو کورنیو سره، چې د مهاجرینو چارو ادارې له لوري د نورستان ولایت په نورګرام، دوآب او منډول ولسوالیو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د مهاجرینو چارو آمریت تر څارنې لاندې ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ نغدې وېشل شوې.**

**همدارنګه ۸ کورنیو سره چې د پاکستان څخه پکتیا ولایت ته راستنې شوې وې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د تلې په ۳۰مه مرستې شوې.**

**د سرچینې په خبره د یادو کورنیو له ډلې ۵ کورنیو هرې کورنۍ ته ۶۱ زره او ۸۰۰ او ۳ کورنیو هرې کورنۍ ته ۳۰ زره او ۹۰ افغانۍ وېشل شوې دي.**

## په پکتیا، نورستان او لغمان ولایتونو کې سلګونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت وېب پاڼه




د پکتیا، لغمان او نورستان ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو له لارې د تلې په ۳۰مه ۳۰۲ کورنیو سره نغدي مرستې وشوې.

د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو پر بنسټ ۲۰۷ کورنیو سره وروسته له سروې او پېژندنې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ مرسته شوې.

د یوبل خبر له مخې ۸۷ نورو راستنېدونکو کورنیو سره، چې د مهاجرینو چارو ادارې له لوري د نورستان ولایت په نورګرام، دوآب او منډول ولسوالیو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د مهاجرینو چارو آمریت تر څارنې لاندې ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ نغدې وېشل شوې.

همدارنګه ۸ کورنیو سره چې د پاکستان څخه پکتیا ولایت ته راستنې شوې وې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د تلې په ۳۰مه مرستې شوې.

**د سرچینې په خبره د یادو کورنیو له ډلې ۵ کورنیو هرې کورنۍ ته ۶۱ زره او ۸۰۰ او ۳ کورنیو هرې کورنۍ ته ۳۰ زره او ۹۰ افغانۍ وېشل شوې دي.**

## نزدیک شدن مهلت اخراج و شدت بازداشت مهاجران افغان در پاکستان

طلوع نیوز

**عبدالجبار تخاری، سرقونسل امارت اسلامی در کراچی پاکستان گفته است که از آغاز ماه جاری تااکنون، بیش از ۱۲۰هزار مهاجر افغان پاکستان را ترک کرده‌اند.**




**شماری از مهاجران افغان در پاکستان گفته‌اند که هم‌زمان با نزدیک شدن مهلت حکومت موقت پاکستان برای اخراج مهاجران، بازداشت مهاجران افغان در این کشور نیز شدت یافته است.**

**بنابر گفته‌های مهاجران افغان، اوضاع مهاجران دشوارتر از پیش شده است.**

**بیژن حسینی، مهاجر افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفت: «در این اواخر پولیس پاکستان نظر به گذشته بیشتر مهاجران افغان را آزار و اذیت می‌کند و پولیس در شهرک‌ها به تعقیب مهاجران افغان می‌گردد«.**

**محمد امید یکی دیگر از مهاجران افغان در پاکستان گفت: «این‌جا در پاکستان، مهاجران افغان با مشکلات زیادی روبه‌رو هستند و پولیس این کشور به خانه‌های مهاجران داخل می‌شود و پس از بازداشت، آنان را به زندان‌ها می‌برد«.**

**درهمین حال، عبدالجبار تخاری، سرقونسل امارت اسلامی در کراچی پاکستان گفته است که از آغاز ماه جاری تااکنون، بیش از ۱۲۰هزار مهاجر افغان پاکستان را ترک کرده‌اند.**

آقای تخاری هم می‌پذیرد که آزار و اذیت مهاجران افغان ازسوی نظامیان پاکستانی هنوزهم ادامه دارد.

عبدالجبار تخاری به طلوع‌نیوز گفت: «در این مدت بیش از ۱۲۰هزار مهاجر افغان، پاکستان را ترک کرده‌اند و این روند ادامه دارد. ما از حکومت پاکستان می‌خواهیم که این مهلت را تمدید کند تا مهاجران بتوانند به طور منظم این کشور را ترک کنند«.

شماری از فعالان حقوق مهاجران تاکید می‌کنند که امارت اسلامی باید به اوضاع مهاجران افغان در کشورهای همسایه و منطقه رسیدگی کند.

میر احمد رووفی، فعال حقوق مهاجران در پاکستان در این باره گفت: «مهاجران افغان در پاکستان نگران آینده خود هستند و حکومت پاکستان باید با مهاجران در پرتو قوانین بین‌المللی برخورد کند«.

قونسل امارت اسلامی در شهر کراچی پاکستان همچنان آمار داده است که بیش از یک‌هزار مهاجر افغان در حال حاضر در زندان‌های پاکستان زندانی هستند و بیش از پنج‌صد مهاجر دیگر از زندان‌ها آزاد شده‌اند.

## یونېسف ۸۰ ټنه طبي وسایل او درمل د هرات زلزله ځپلو ته رسوي

د آزادي راډیو وېب پاڼه




**د هرات یو شمېر زلزله ځپلي**

یونېسف یا د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق وايي چې ۸۰ ټنه طبي وسایل او درمل یې ترلاسه کړي او ژر به په هرات کې د وروستیو زلزلو له امله زیانمنو شویو ۴۳ زره کورنیو ته ورسول شي.

تر دې وړاندې هم مرستندویه ادارو او ځو هېوادونو هرات ته مرستي لېږلي او متحده عربي اماراتو هلته یو ګرځنده روغتون پرانیست.

**په هرات کې د تېرو دوو اوونیو د زلزلو له امله د ملګرو ملتونو د راپورونو په اساس لږ تر لږه ۱۵۰۰ تنه وژل شوي او څه دپاسه دوه زره تنه نور ټپيان شوي دي.**

**بل خوا د خوړو نړیوال پروګرام وايي چې د زلزلې ۹۰ سلنه قربانیان ښځې او ماشومان دي او مرستې ته اړتيا لري.**

## افغان حکومت: پاکستان افغان کډوالو ايستلو په مسله درې اړخيزې غونډې جوړيدو سره لا موافقه نه ده کړې

د امریکا غږ

---




**په داسې حال کې چې د پاکستان له خوا ددغه هیواد څخه قانوني اسنادو نلرونکو افغان کډوالو د ایستلو ټاکل شوې موده ته اته ورځې پاتې دي افغان حکومت وايي دغه هیواد تراوسه په دې مسله د خبرو لپاره د ملګروملتونو په ګډون د یوې درې اړخیزې غونډې جوړیدو سره موافقه نه ده کړې.**

**د کډوالو او ستنیدونکو چارو وزارت د یکشنبې په ورځ اکتوبر۲۲(تلې۳۰) د ایکس په ټولنیزه شبکه کې په یوه خبرپاڼه کې ویلي، ددغه وزارت مسلکي معین عبدالرحمن راشد افغانستان کې د ملګروملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د دفتر د مشر لیو نارد زولو سره له پاکستان څخه په جبري ډول د افغان کډوالو د ایستلو په مسله خبرې کړې دي.**

**دغه وزارت ویلي:" ددې له امله چې د پاکستان اړخ په دغه هیواد کې د درې اړخیزې غونډې( افغانستان، پاکستان او د ملګروملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ) سره تراوسه موافقه نه ده کړې، دغه وزارت پریکړه کړې، چې دغه درې اړخیزه غونډه په کابل کې جوړه شي او موضوع د بهرنیو چارو وزارت [امارت اسلامي حکومت] او کډوالو د عالي کمیشنرۍ سره هم شریکه شي."**

د امارت اسلامي د حکومت د کډوالو او ستنیدونکو چارو وزارت په دغه خبرپاڼه کې د ملګروملتونو د کډوالود عالي کمیشنرۍ د افغانستان د دفتر د مشر لیو نارد زولو له قوله ویلي، چې په کار دي پاکستان ددغې درې اړخیزې غونډې د جوړیدو او یا نه جوړیدو په اړه خپله پریکړه ژرترژره اعلان کړي.

اسلام آباد د رواني اکتوبر میاشتې په لومړیو کې ټولو غیر قانوني کډوالو ته د را رواني نومبر میاشتې تر لومړۍ نیټې د وتلو لپاره مهلت ورکړی دی او تر څنګ یې دا خبرداری هم ورکړی و چې که څوک پخپله خوښه ونه ووځي، چارواکي به یې ونیسي او ددغه هیواد څخه به به یې شړي.

د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت هم د تیرې پنجشنبې په ورځ د پاکستان په ګډون د افغانستان له ټولو ګاونډیانو څخه وغوښتل چې هغو افغانانو ته په خپلې خاورې کې د داخلېدو اجازه ورکړي چې د خوندیتوب په لټه دي.

د دغه وزارت ویاند متیو میلر په یو خبري کنفرانس کې د پاکستان او نورو هېوادونو څخه وغوښتل چې له دغو پناه غوښتونکو سره مرسته وکړي.

هغه وویل: "موږ د پاکستان په ګډون د افغانستان ټول ګاونډیان جدي هڅوو چې هغوو افغانانو ته، چې د نړیوال خوندیتوب په لټه دي د داخلېدو اجازه ورکړي، او د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ او کډوالو د نړیوال سازمان په څېر د نړیوالو بشري سازمانو سره په هغېږۍ هغوی ته بشري مرسته برابره کړي."

د د اسلامي امارت چارواکو هم د پاکستان څخه غوښتي، چې د افغان کډوالو د شړلو په خپله پریکړه دې له سره غور وکړي. د تیرې پنجشنبې په ورځ اکتوبر۱۹( تلې ۲۷) په کابل کې د پاکستان د سفارت د شارژدافیر عبید الرحمن نظاماني سره په کتنه کې له هغه وغوښتل چې د افغان کډوالو د ایستلو په پریکړه دې بیا غور وکړي.

خو د پاکستان د لنډ مهاله حکومت د صدراعظم په ګډون ددغه حکومت لوړ پوړو چارواکو ویلي، چې په دغه هیواد کې د اوسیداني د قانوني اسنادو نلرونکي ۱.۷ میلیونه بهرني اوسیدونکي چې ددغه شمیر۱.۴ میلیونه یې افغانان دي د ایستلو پلان عملي کوي.

پاکستان حکومت ددغسې کډوالو د ایستلو لپاره د ټاکل شوې نیټې دمخه ددغه هیواد د پایتخت اسلام اباد په ګډون په څو لویو ښارونو کې د افغان کډوالو نیولو لړۍ چټکه کړې ده.

د پاکستاني رسنیو د راپور له مخې د خیبرپښتنخوا پولیسو د یکشنبې په ورځ د پیښور ښار د بورډ په سیمه کې د افغان کډوالو یو پخواني بازار کې په لسګونو دکانونه د کومې مخکینۍ اطلاع د ورکولو دمخه نړولي دي. ددې دمخه د اسلام اباد پولیسو هم د مرګلې په سیمه کې د افغان کډوالو یو شمیر کورونه ړنګ کړي و.

د امارت اسلامي حکومت له پاکستان څخه د افغان کډوالو د ایستلو نیټې په نږدې کیدو د ننګرهار په ولایت کې د تورخم بندر سره نږدې د ستنیدونکو افغان کډوالو د لنډ مهاله اوسیدلو لپاره یو کمپ هم جوړ کړی دی. دغه کمپ د ۵۰۰ کډوالو د اوسیدانې ظرفیت لري.


د امارت  د حکومت سیمه ییز چارواکي وایي چې په کمپ کې د لنډمهاله اوسیدانې پر مهال به ستنیدونکو کډوالو ته د خوړو، ترانسپورټ او روغتیایي خدمتونه برابر شي.

پاکستان کې چارواکي وایي وروسته تر هغه چې پدې هیواد کې میشتو افغان او نورو کډوړالو ته چې د اوسیدو لپاره یې قانوني اسناد نه درلودل پخپله خوښه د وتلو لپاره مهلت ورکړل شو، زرګونه افغانان بیرته خپل هیواد ته ستانه شویدي.

دغه چاروکي وایي چې تر جمعې اکتوبر ۲۰ (تلې۲۸) د ښځو او ماشومانو په ګډون تقریبا ۵۲ زره افغانان خپل وطن ته ستانه شوي او ګڼ شمیر نورو یې په کراچۍ او نورو ښارونو کې کډې بار کړي او د سرحد په لور روان دي.

# د هوا له سړېدو سره له پاکستان او ایرانه د افغان کډوالو د ایستلو لړۍ چټکه شوې

بی بی سی پښتو



افغانستان کې د هوا له سړېدو سره هممهاله له پاکستان او ایرانه د افغان کډوالو د ستنولو لړۍ چټکه شوې ده.

افغان حکومت د کډوالو وزارت هره ورځ له ایران او پاکستانه د شاوخوا لس زرو افغان کډوالو د بېرته ورستنېدو خبر ورکړی.

پاکستان او ایران دواړو ویلي چې بې اسناده افغان کډوال باسي، خو له پاکستانه راپورونه وايي چې هلته اسناد لرونکي افغان کډوال هم خوندي نه دي.

د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼو بنسټونو د افغانستان پر ګاونډیو هېوادونو بیا بیا غږ کړی چې افغان کډوال دې په زوره نه باسي.

د افغانستان د کډوالو چارو وزارت یوازې د تلې په نهه ویشتمه ورځ له ایران او پاکستانه لږترلږه د شپږو زرو د ډېرو کډوالو د بېرته ستنېدو خبر ورکړی.

دا یوازې د هغو کډوالو شمېر دی چې له پاکستانه د تورخم او له ایرانه د اسلام کلا له لارې راستانه شوي.

دوی تر ډېره هغه کډوال دي چې له دغو هېوادونو په زوره ایستل شوي.

دا لړۍ په ورځني ډول روانه ده او هره ورځ شاوخوا لس زره کډوال له دغو هېوادونو افغانستان ته ستنېږي.

د امارت اسلامي حکومت په ننګرهار ولایت کې، چې له پاکستان سره پر ډیورند کرښه پروت دی، د په زوره ایستل شویو کډوالو لپاره د یوه لنډمهاله پنډغالي د جوړولو اعلان کړی.

دا کمپ په لعلپورې ولسوالۍ کې جوړ شوی.



د عکس سرچینه،MORRAFG

**ننګرهار لپاره د امارت حکومت والي لعلپوره کې کډوالو لپاره جوړ شوی لنډمهال کمپ ګوري**

**دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې هوا په سړېدو ده. همدا نن د افغانستان په مرکزي او ختيزو سيمو کې د وربښتونو او سيليو اټکل شوی دی.**

**خو د پاکستان حکومت ټولو ناقانونه افغان کډوالو ته، چې اټکل کېږي يو اعشاريه اووه ميليونه کېږي، د روانې اکتوبر مياشتې تر پايه له هېواده د وتلو امر کړی دی.**

**خو دغه هېواد کې هغه افغانان هم خوندي نه دي چې اسناد لري.**

**په اسلام آباد کې افغان کډوال غفارخان چې کور يې له مخکينې خبراوي پرته نړول شوی او**

**يو شمېر نور کډوال وايي اسناد لرونکي او بې اسناده ټول افغان کډوال په نښه کېږي.**

**په پاکستان کې د بشري حقونو فعاله او مدافع وکيله منيزه کاکړ هم وايي چې هلته د نيول کېدونکو کډوالو اتيا سلنه اسناد لري.**

**د ايران کورنيو چارو وزير هم د "ناقانونه کډوالو" د شړلو غوښتنه کړې.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د عکس سرچینه،MORRAFG

د عکس تشریح،

افغان حکومت وايي د تلې/میزان په ۲۹مه له د ایرانه ۲ زره ۸۰۵ افغان ورستانه شوي

دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼو هېوادونو او په افغانستان کې دامارت حکومت هم پر ګاونډیو هېوادونو غږ کړی چې افغانان دې په زوره نه باسي.

تېره اونۍ د ملګرو ملتونو دریو چارواکو پر پاکستان غږ وکړ، چې سملاسي دې د افغان وګړو د ایستلو پلان لغوه کړي.

په پاکستان کې د کډوالو عالي کمېشنرۍ یا یو این اېچ سي ار ویاند قیصر خان اپریدي بيبيسي ته ویلي، دوی د پاکستان حکومت ته د نور ملاتړ د ورکړې تر څنګ له هغوی بیا بیا غوښتي چې په زوره دې افغان کډوال بېرته نه ستنوي.

په افغانستان کې د بشري حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي راپورتر 'ریچارډ بېنېټ'، د کډوالو د حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي رپورتر 'فېلېپ ګونزالس مورالس' او د ښځو او ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په برخه کې د دغه سازمان ځانګړي رپورترې 'ریم السالم' په ګډه اعلامیه کې ویلي، د افغانانو په زوره شړل به دوی له نه جبرانېدونکي زیان سره مخامخ کړي.

په خبرپاڼه کې پاکستان کې د افغان کډوالو د نیولو او غیر قانوني چلند په اړه هم اندېښنه ښودل شوې.

خو پاکستان وړاندې ویلي چې پر خپله پرېکړه ولاړ دی.

## کرکټ نړیوال جام؛ افغان لوبډلې پاکستان ته ماتې ورکړه

باختر اطلاعاتی آژانس




**د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د روان ۲۰۲۳ ز کال د نړیوال جام په پنځمه لوبه کې پاکستان ته د ۸ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه.**
**دغه سیالۍ کې پاکستان د لوبې پچه وګټله او لومړۍ توپوهنه پیل کړه چې په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲۸۲ منډې جوړې کړې او افغان لوبډلې ته یې ۲۸۳ منډې یې هدف کېښود.**
**ورته مهال افغان لوبډلې دغه هدف د ۲ لوبغاړو په زیان سره په ۴۹ اور کې پوره او پاکستان ته یې د ۸ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه.**
**په دغه سیالۍ کې رحمن ګربز ۶۵، ابراهیم ځدراڼ ۸۷ او رحمت شاه ۷۷ منډې جوړ کړې.**
**د یادونې وړ ده افغان لوبډلې له دې وړاندې د انګلستان پیاوړې لوبډلې ته هم ماتې ورکړې وه.**